# هغه ته یی

چي توپير د تور اوسپين نشي کولي هغه ته يي
چي خايين له خادم نشي بيلولی هغه ته يي
ته لا تراوسه د اوهامو په پیچلی دام کی گیر يي
چي له عقله مرور وی له هغو نه بیاهم ته یی
دهغو تر شا ولاړ یی چي قا تل ستا دورور وه
چي د چا سره یو نوکی غيرت نه وی هغه ته یی
په راکټو او بمونو چي ستا کور ورانول
اوس د هغی پسي روان یی ، بی همته هغه ته يي
له تا هير شو چي وطن په گذار ددوی ويجاړ شو
اوس هغه خپل مشر بولی بی احسا سه هغه ته یی
گرم ناگرم تاته یوشان دي که چا خيته درموړ کړ
دسارقو قوماندان ته چي مارشال وايي هغه ته يي
یوځلی دی هم له سره سردی کوزنگړ گريوان ته
د جاهل ملا خبری چا چي اوری هغه ته یی
ها ملا چی د انترنيټ له نړی چور بی خبر دی
چی د دی ملا ترشا څوک دریږی هغه ته یی
تولټاکنو کی دی هڅه د خا یین کاندید پخوا دی
دليوه پسی ، پسه چی ډير ځغلی هغه ته يي
تاسره اوس غيرت نشته په شمله دی مه نازيږه
د خا يینو په چوپړ کی غټ چوپړ هغه ته یی
ستا وطن به خنگه جوړشی چي رهبردی قاتل وی
چي د«مل» خبری نه آوری لاره ورکه هغه ته یی
****

پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل»
جرمنی ۲۰۱۴-۳-۳۱